حج او عمره يو بل پسې ادا کړئ، ځکه چې دا دواړه فقر او ګناهونه داسې لرې کوي لکه څنګه چې (د پښې پو شوی اور) د اوسپنې، سرو زرو او سپينو زرو ناپاکي لرې کوي او قبول شوی حج له جنت پرته بله بدله نه لري

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "حج او عمره يو بل پسې ادا کړئ، ځکه چې دا دواړه فقر او ګناهونه داسې لرې کوي لکه څنګه چې (د پښې پو شوی اور) د اوسپنې، سرو زرو او سپينو زرو ناپاکي لرې کوي او قبول شوی حج له جنت پرته بله بدله نه لري".
[صحيح دی] [الترمذي، النسائي او أحمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ژر ژر د حج او عمرې، يو د بل پسې پر ادا کولو ټينګار کوي او دا چې څوک يې وس لري نو بايد پرېکون پکې را نه ولي، ځکه چې ادا کول يې په داسې ډول د فقر، ګناهونو او پر زړه د ګناهونو د اغيزو د لرې کېدو لامل ګرځي لکه څنګه چې د اور پو کول د اوسپنې او هغو معدنياتو څخه زنګ او نور توکي لرې کوي چې له جنسه يې نه وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65627